مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد.

شیر ساپی

۲۰۲۰/۱۱/۰۴

# د افغان زوی

**د نن مرګونی ګواښ ملي هویت ته، تاریخي اصالت ته، کلتوري ارزښتونو او د افغانی افکارو ته متوجه شویدي.**
**هغه ګواښ چې افغانستان په روحي او فرهنګي سقوط تهدیدوي،او د هر ملت فرهنګی سقوط د هغه د مړینې زنـګ دي.**
**د یوه ملت واقعي اضمحلال،د هغه سیاسي، نظامي یا اقتصادي جبرانیدونکی اضمحلال ندی؛ د هغه فرهنګی نه جبرانیدونکی اضمحلال دي.**
**دا حقیقت هیر نکړئ چې د هر ریښتیني افغان لپاره ، افغانستان ترټولو لوی حقیقت، حیاتي حقیقت، د ژوند او مرګ حقیقت دي. هاغه حقیقت دی چې دهغه د وجود ذراتو له هرې ذرې سره، د زړه رپیدو له هر درزا سره ګډ شویدي. او په نړی کې هیڅ شی شتون نلري چې له هغه څخه ډیر مقدس او منلی وي.**
**هر افغان هر څومره هم چې مسلمان او متقي وی، لومړی انسان دی، بیا افغان دی، بیا مسلمان دی. د هر ریښتیني افغان لپاره، افغانستان لړترلړه په هماغه اندازه محترم دي چې سلام محترم دي، هغومره تل پاتې دي چې اسلام تل پاتې دي، او هغه باید په همغه کچه د خپل ملي هویت ساتنه وکړي چې د خپل ایمان څخه ساتنه کوي.**





افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ